درویش وردک


۲۴ اپریل ۲۰۱۶

## دیرشم مجلس (دخدای په نعمتونواعتراف)

د۵۴۵هجری قمری کال دجمادی الاخرپه شپاړلسمه سهار شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: خوشحالی دی وی دهغه چاپرحال چی دخدای تعالی په نعمتونو اعتراف وکړی، اوټول بخشونه دخدای له جانبه ګنی، اودده پروړاندی خپل توان هیڅ بولی.

وای پرتا! خدای پرته له علمه اوآګاهی پرستش کوی، دنیا هم پرته له رینتینی پیژندګلوی کله منی اوکله یی ردوی، داروش حجاب پرحجاب دی،چی له خدای څخه ستادلیری والی سبب ګرځی، ځکه چی نیک اوبد نه سره بیلوی، اونه پوهیږی چی کوم شی ستا پرزیان اوکوم ستاپرګټه دی، خپل دوست اودښمن نه پیژنی، داټول دخدای په نسبت ستا دجهل څخه دی، اودبزرګانو اوعاملو علماو دخدمت ترک کول، ځکه هغه عالم چی په علم سره عامل وی اودشریعت داحکامو اواوامرو ترسره کوونکی ، تا خدای ته رسوی. ددوی غوره ویناوی به درته کارسازه وی،خدای ته دهدایت کوی، اودحضرت حق مقرب به شی، ځوک پرته له علمه دعمل سره اوله دنیاڅخه په زهد اولیری والی په ظاهره اوباطنه، دقرب مقام ته ندی رسیدلی. ځوک چی دزهد مدعی وی دنیایی له لاسه وزی، ولی ریښتینی زاهد دنیا له زړه وباسی، ظاهراوباطن یی له دنیا ګریزانه وی، دشهواتو اوریی مړ، اودنفس هوایی ماته او مطمئنه نفس باندی نائل کیږی.

(ای دخدای بنده) داډول زهد نه کوم صنعت دی چی وکاروی، اونه کوم شی دی چی په لاس کی یی ونیسی،بلکه هغه ریښتینی ګامونه اخیستل دی په دی لاره کی، لومړی ګام دنیا ته یونظرکتل، اودهغی ځیره ځرنګه چی ده هغسی لیدل، په داسی ډول چی دانبیاو اولیاو اوابدالوته ظاهره شوی ده. اوریښتینی دیدارهلته درته نصیب کیږی چی دحق دمردانوله اقوالو اوافعالوڅخه پیروی وکړی، اوهرکله که دی له دوی څخه تبعیت وکړ، ته به هم دنیا داسی وګوری لکه دوی چی لیدلی. اوکه دی په ریښتینی سره ددوی دقول اوفعل څخه په ښکاره اوپټه، په صورت اومعنی کی پیروی وکړه، هغه وخت به دی لمونځ، روژه، بغض اوحب به دی کاملا ددوی داعمالو اوکړوپه ځیرشی. په دی وخت کی عزّوجلّ خدای به داسی نوردرته عطاکړی چی دهغی پواسطه به خپل ځان اوهم نورو وپیژنی، دخپلواونورو دکړو ناوړه توب به درته ځرګندشی، بیابه په کلی توګه له خلکو سره پریکړون وکړی، په دی حال کی به دحق دقرب انوارستاپه زړه راخپاره شی، دمومن اوموقن اوعارف مقام ته به ورسیږی، اوداسی مرحلی ته به ورسیږی، چی شیان به داسی درته ځرګندشی

لکه چي په ريښتيني سره وی، که په ظاهرصورت وی يا په معنی کی، دنيا به په داسی ډول وګوری لکه چی ستانه مخکی بزرګانو کتلی، هغه به دزړی بدرنګه بوډی په څيروګوری، همداسی چی ريښتينو زهادو هغه کتلی ده.

ولی پوه شه چی دازړه بدرنګه بوډی، دملوکو اودنيا دوستانو په نزد ديوی ښکلی ناوکی په څيرپه بهترين سنګارکی ده، ولی دصلحاو دقوم پرو‌ړاندی بی ارزښته ذليله ده، چی ويښتان يی سوزی، اوجامی يی څيری، اوصورت يی خراش کوی. اګرچه خپل مقرر قسمتونه هم قهراً تری اخلی، ولی په هرحال کی تری بيزاره دی، اوتل دحق په ياد مشغول دی.

(ای دخدای بنده) هرکله که دی زهد دصحت مرتبی اومرحلی ته ورسيد، په عقل اواختياردهغی مرحلی طی کړه، له خلکو مه ويريږه، اوپه عطا(ورکړه) يی زړه مه تړه. له هرڅه نه چی نفس تاهغی ته هڅوی، ځان وژغوره، اوترهغی چی دخدای پاک اراده په کوم کارنه وی شوی، په هيڅ کارلاس مه پوری کوه. دزهد په حال کی ،دريښتينی زاهد زړه دالهاماتو ځای کيږی. هرڅه چی درته الهام شول که رد وی يا قبول ، بايد ترسره شی. که دجوارحو(غړو) واقعی هوساينه ترلاسه کړه دحيرانتيا وړنده اوپوه شه چی داظاهری سکون ستا باطن ته هيڅ زيان نه رسوی.، ريښتينی سکون اوهوساينه هغه وخت درته راځی چی دنفس هوا اودرونی تمايلات دی ټول مړه شی، اوپرته له مولا بله علاقه دی په زړه کی پاته نشی. په داسی حال کی دی چی دحق قرب به دی بيا ژوندی کړی، اودخلکو لارښوونی ته به دی وګوماری. اودنيا اوآخرت ته به دی داسی ميل پيداشی چی خپل معين قسمتونه به دشرعی داحکاموپه رڼا کی ترلاسه کړی. دخلکو درنځونو دتحمل توان به په تاکی پيداشی، ترڅو پدی توګه دوی له ګمراهی څخه وژغوری. اودخدای امرددوی ترمنځ اجرا کړی. اوکه ددی کارپه ترسره کولو سره مامورنشوی، نو يوازی دحق قرب درته کفايت کوی، اوله غيروبه بی نيازه وی، اوکله چی دټول موجواتودخالق قرب ته چی پخوا اووروسته موجوددی، ورسيدی، نوربه دخلکو نيازمند نه وی. که دګناهونه دباران په اندازه وی، بايد ستاتوبه هم دهغی په اندازه اودباران دمقابلی وړ وی.

وای پرتا! حيرانی ده! دپه غرور مست شوی يی، زيانکاره يی، دشهوت اسيريی، زاړه اوپخوانی قبرونه وګوره اوله ساکنانويی وپوښته، ترڅوله خپله حاله درته ووايی.

(ای دخدای بنده) ته دخدای اولياوته په حقه دارادت دعوی کوی، آيا ګمان کوی چی دعوه به ترڅيرنی اوکتنی لاندی رانشی؟ مادحق په اذن څوڅوځله داڅيرنه ترسره کړی دی، نوځکه په درستی اوصحت يی واقف يم.

ای دځمکی اوسيدونکو، ستاسو اعمالو دبی مالګی اوړو په شان دی، راشی اوله مالګی مه ويريږی، دخپلو اعمالو بی مالګی اوړه داخلاص په مالګه بشپړ کړی.

ای منافقه ته ددوه مخی سررشته يی، ډيرژربه ددی نفاق اوردرته ورسيږی. پس ژرترژره ددی نفاق له اوره ځان وژغوره. هرکله که دزړه دنفاق له اوره وساته نوټول غړی به دی خلاصون ومومی. زړه دغړو نګهبان اوساتونکی دی، هرکله که زړه روغ ونوټول غړی به روغ وی. اوهرکله که دومن زړه اوغړی، ظاهراوباطن يی به صلاح راغلل، نو هغه وخت به دی دښځی اواولاد، ګاونډيانو، اودکلی اوښار نګهبان ګرځی، اودمولا دقرب مقام ته ارتقاء حاصل کوی.

(ای قومه) دخدای ددوستانو سره دوستی وکړی اوله دوی ويره ولری، فرمان ته يی غاړه کښيږدی، ځکه متعال خدای په خبل ازلی علم سره تاسو په هغه کارونو چی صلاح ګڼل کيږی، مکلف کړی ياست. پس دخدای حکم ترسره کړی، اودهغی حق اداء کړی. هرکله که مو دخدای په اوامرو عمل وکړ، نوهمداعمل به تاسو دهغی خاوند ته ورسوی، اوله ده څخه به داسی علم زده کړی، چی له هغی بيخبره وی، اوورسته به په همدی علوموتل دخدای سره وی، اوداحکامو پربنسټ به يی له خلکو سره چلندکوی. اوهرکلکه که مو پدی لاره کی ګامونه ثابت شول، بيا دبل مقام په طلب کی

اوسی، چی هغه دعلم اوعمل او اخلاص تحصیل دی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (تَفَقَّه ثُمَّ اُعْتزِلْ)-« زده کړه، پوهه ترلاسه کړه،-بیا- ددنیوی لاس اوپښی نیونکواو فریب ورکوونکو مشاغلوڅخه عزلت غوره کړه.

مومن هغه څه چی پری ګمارل شوی، زده کوی، بیا له خلکو څخه کناره ګیری کوی، اودخدای عزّوجلّ په عبادت لاس پوری کوی، خلک پیژنی، اودوی ته پاملرنه نه کوی، خدای پیژنی اوله هغه سره مینه کوی،اوداوامروپه ترسره کولوکی یی زیارباسی. خلک په دوی پسی راځی ولی دوی له خلکو په تیښته کی دی، ځکه پوه دی چی نه نیک اونه بد، نه خیراونه شر، کوم شی ددوی په لاس کی نشته. اوهرکله که څه نیک یا بد ددوی په لاسو ترسره شو، هغه هم دخدای له لوری دی. پس له خلکو څخه لیری والی ترنیږدی والی غوره دی. اصل ته راګرځی اوله فروعاتوڅخه لیری کیږی، ځکه پوهیږی چی اصل واحد دی اوفروع پریمانه، دتفکر په هنداره کی یی کتلی چی یوی دروازی ته دریدل ډیرښه دی نظرډیروته دریدل. نوځکه دحق پردرګاه مقیم دی ، نه دغیرو.مخلص مومن اوموقن ته کامل عقل ورکړل شوی، نوځکه له خلکو تښتی اوله خدای سره متوسل کیږی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقناعذاب النار».آمین**